اونیزه مجله :333
WEEKLY BOOKLET-333

د شیخِ طریقت امیرِ اهلِ سُنّت، بانئ دعوتِ اسلامي حضرتِ علامه مولانا محمد اِلیاس
عطّار قادري رَضَوي دَامَتْ بَرَكَاتُـهُمُ الْعَالِيَه د ملفوظاتو تحریري ګلدسته

# د کاروبار په باره کښې

# 13 سوالونه او جوابونه

پاڼې 14




"اخستې شوي مال به نه واپس کیږي" لیکلې لګول څنګه دي؟ 02
آیا د هر کاروبار د پاره شرعي رهنمائي ضروري ده؟ 04
آیا ښځه د مهر رقم خاوند ته د کاروبار د پاره ورکولې شي؟ 08
دهوبي سره د هیرو شوو کپړو حُکم؟ 13



پیشکش:
المدینة العلمیة (دعوتِ اسلامي)
Islamic Research Center

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ط بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط

# د کاروبار په باره کښې 13 سوالونه او جوابونه [1]

**دُعائے خلیفۂ عطّار:** یا رَبَّ المُصطفٰے! څوک چې دا رساله "**د کاروبار په باره کښې 13 سوالونه او جوابونه**" اولولي یا واوري هغه ته د شرعي تقاضو مطابق د کاروبار کولو توفیق نصیب کړې او هغه سَره د مور پلار بے حسابه اوبخښې.

اٰمین بِجاہ خاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

**د آخري نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم **فرمان دے:** چا ته چې څه مشکل پیښ شي هغه له په ما باندې په کثرت سره دُرُود لوستل پکار دي ځکه چې په ما باندې دُرُود لوستل مصیبتونه او بلاګانې لرې کوونکے [عمل] دے. (القول البدیع، ص 414)

**صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**سوال:** مونږه چې د بیکرۍ نه څه پیک کړے شوے سامان واخلو او هغه برسیره کړو نو بعضې وخت هغه خراب اوخیژي. بیا چې مونږ کله هغه واپس یوسو نو بیکرۍ والا د بدلولو نه انکار کوي نو په داسې حالت کښې مونږ له څه کول پکار دي.

**جواب:** په داسې صورت کښې بهتره دا ده چې هغه په دکان کښې چیک کړے شي. که کور ته ئې یوسۍ او چیک یې کړۍ او بیا یې واپس کوۍ نو دکاندار به یې نه مني حالانکه اختسونکے به قسمونه خوري چې ما په دې کښې هیڅ نه دي کړي، چې کور کښې مې برسیره کړو نو دا خراب وختو نو داسې به جګړه جوړه شي.

---

1 ... دا رساله د امیرِ اهلِ سنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ العَالِیَه نه په شوؤ سوالونو او د هغې په جوابونو باندې مشتمله ده.

اخستونکي له پکار دي چې هغه د دکاندار نه اجازت واخلي چې زه پيکټ برسيره کووم او ګورمه يې که صحيح وو نو اخلم يې ګنې نه يې اخلم، بيا که هغه اجازت درکړي نو پيکټ برسيره کړئ ګنې بغير د اجازت نه که يې برسيره کړئ نو جګړه به جوړه شي او په کاروبار کښې داسې انداز اختيارول جائز نه دے د کوم په وجه چې د جګړې امکانات پيدا کيږي.

## ''اخستے شوے مال به واپس نه اخستے کيږي'' ليکل او لګول څنګه دي؟

(په دې موقع باندې په مَدَني مذاکره کښې شريک مفتي صاحب اوفرمائيل:) که په څيز کښې عيب وي نو بے شکه اخستونکي که په دکان کښې برسيره نه کړو او اوئې نه کتو نو [بيا هُم] په دکاندار باندې واپس اخستل لازم دي. ډير داسې څيزونه وي کوم چې په دکان کښې نشي برسيره کيدے مثلاً کوم څيزونه چې د ګفټ پيک په طور اخستے شي د هغې په دکان کښې برسيره کول ممکن نه وي او هغه په کور کښې برسيره کول وي که په دکان کښې يې برسيره کړي نو سمبالول به يې ګران شي. عام طور په معياري ځايونو کښې د څيزونو خراب راوتل کم وي او چرته چې داسې کيږي هلته ډير دکانداران دا ليکي او لګوي يې چې ''اخستے شوے مال به واپس نه اخستے کيږي'' حالانکه دا څه اصول يا ضابطه نه ده بلکې کوم څيز چې خراب وي هغه به دکانداران واپس کوي. که دکاندار يې واپس کول نه غواړي نو د خپل طرف نه دې داسې براءت ظاهر کړي چې ګاهک ته دې اووائي چې دا څيز که هر څنګه دے دا اوس اوګوره او واخله بيا به واپس نه اخستے کيږي، خو دا کوم چې ليکي او لګوي چې ''اخستے شوے مال به واپس نه اخستے کيږي'' دا په شرعي لحاظ سره صحيح نه دي. (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت،64/2)

**سوال:** زه په يو دکان کښې کار کووم، کله نا کله زمونږ په دکان باندې د ګاهکونو دومره رَش جوړ شي چې زه د جَمعې سره نمونځ نشم کولے نو په داسې حالت کښې جَمع پريښودل څنګه دي؟

**جواب:** که د جُمعې وخت شو او د جُمعې سره په نـمونځ کولو کښې د زيات ګاهک نه علاوه بَل څه رُکاوټ نه وي نو دا د جُمعې پريښودو د پاره شرعي عُذر نه دے، ګاهک پريښودل او د جُمعې سره نـمونځ کول واجب دي. که څوک د ګاهک په وجه جُمع پريږدي نو ګنهګاريږي به. د نـمونځ د پاره د ګاهک پريښودو په ذريعه که حرص او لالچ ختم نکړې نو په بَله کومه ذريعه به يې ختموې؟ ياد ساتئ! داسې نوکري هم جائز نه ده په کومه کښې چې د جُمعې سره د نـمونځ کولو نه منع کولے شي يا هغه د جُمعې سره په نـمونځ کولو کښې رکاوټ جوړيږي. البته که نوکري په څه داسې ځائے کښې وي چرته چې داسې جومات نه وي چې په هغې کښې د جُمعې سره نـمونځ اوکړے شي نو په داسې حالت کښې که چا په وخت کښې دننه دننه د مکروه وخت نه مخکښې نـمونځ اوکړو نو هيڅ ګناه نشته. (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 65/2)

**سوال:** د کاروباري ضرورت يا د رقم د حفاظت د پاره په بينک کښې اکاؤنټ پرانستل جائز دي که نه؟

**جواب:** کرنټ (Current) اکاؤنټ پرانستے شي، د سيونګ (Saving) اکاؤنټ پرانستو نه علمائے کرام منع فرمائي، ځکه چې په هغې باندې سود جوړيږي.

(چندے کے بارے میں سوال جواب، ص49) (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 342/4)

**سوال:** که په کاروبار کښې بيا بيا نقصان کيږي نو د دې څه وجهې کيدے شي؟

**جواب:** ګټه او نقصان د **الله** پاک په اختيار کښې دي. بعضې وخت ازميښت او امتحان هم وي او کله خپل غفلت هم وي. عموماً عوام دا ګڼي چې چا بنديښت يا جادو کړے دے، داسې خلق په هره خبره کښې د جادو، پيريانو او اثراتو په شان څيزونه راوباسي، دا ضروري نه دي، ځکه چې هر څوک خو فارغ نه وي ناست چې جادو به کوي. که په کاروبار کښې نقصان کيږي نو د هغې د پاره محنت کوئ، د **الله** پاک په حُضُور کښې توبه کوئ، تلاوت کوئ، نـمونځونه کوئ، د **الله** کريم په بارګاه کښې دعاګانې کوئ او په رزق کښې د برکت والا اَوارد او وظيفې لولئ، اِنْ شَآءَ الله رزق

به مو فراخه شي، ترقي به اوشي او د کاروبار نقصان به اودرېږي. د دعوتِ اسلامي د مَکْتَبَةُ الْمَدِينه رساله "چڑیا اور اندھا سانپ" [2] اولولئ، په هغې کښې په رزق کښې د برکت ښه ښه اَوراد [وظيفې] ورکړے شوي دي. اِنْ شَآءَالله ستاسو کاروبار به روان شي.

(ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 70/5)

**سوال:** تجارت کوونکو بعضې خلقو ته که دا اووئيلے شي چې تاسو د کاروبار په باره کښې شرعي راهنمائي حاصله کړئ يا دارُ الافتا ته لاړ شئ نو هغوئي وائي چې "نهٔ مونږ دروغ وايو او نهٔ د چا پيسې خورو، پوره زکوٰة هم ورکوو، ځکه شرعي راهنمائي اخستل ضروري نهٔ دي." په دې باره کښې تاسو څه فرمايئ؟

**جواب:** که زه دا اووايم چې "په دې دور کښې 99.9 فيصده کاروباريان (يعنې سوداګر) داسې دي کومو ته چې د تجارت مسئلې معلومې نه دي نو کيدے شي چې مبالغه نه وي. صرف خبرې کوي چې "مونږ خو الله کوو، زمونږه ډير لالچ نشته، د بچو د پاره رزق ګټو بس" حالانکه حرام ګټي او خپل اکاونټ کښې يې جمع کوي او هغوئي ته پته هم نه لګي. هغوئي دا ګڼي چې " ما کوم د شرابو دکان برسيره کړے دے! يا زه کوم د سُود کار کووم!" حالانکه په وړه وړه خبره دروغ وائي او دهوکې کوي. دا ځيزونه دوئي سنجيده نه اخلي، دوئي ګڼي چې "په کاروبار کښې دا هر څه چليږي، د دې خبرو نه بغير به کاروبار ځنګه کيږي! که دروغ نه وايم نو ځيز هډو خرڅيږي نه" نَعُوذُبالله! دا د شيطان جوړ کړے شوے ذهن دے. چې دا حال وي نو برکت به د کوم ځائے نه راشي؟ په لـمونځونو کښې به يـې زړه ځنګه اولګي؟ خشوع او خضوع به

2 ..."چڑیا اور اندھا سانپ" دا رساله امیرِ اَهلِ سُنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ليکلې ده د دې 33 صفحات دي. په دې رساله کښې د فقر تعريف، د فقر په فضيلت باندې احاديثِ مبارکه، د حاجت پټولو فضيلت، د تنګ لاسئ اسباب او د دې نه د نجات حاصلولو علاج، په رزق کښې د برکت وظيفه او د دې نه علاوه په نورو کاروباري معاملو کښې د آسانتيا نُسخې هم بيان کړے شوې دي. (شعبه ملفوظاتِ امیرِ اَہلِ سُنّت)

خنګه راشي؟ زړه کښې به يې رحم خنګه پيدا شي؟ د ګناهونو نه به نفرت خنګه زياتيږي؟ کوم کاروباري خلق چې زما خبرې اوري هغوئي دې د "دارُ الافتاء اهلسنّت" نه د خپل کاروبار تفتيش اوکړي، د دې د پاره به باقاعده حاضريدل وي، يا که حاضريدل ممکن نه وي نو د انټرنيټ وغيره په ذريعه رابطه اوکړئ او د خپل کاروبار شرعي راهنمائي حاصله کړئ. د دې نه بغير خپل بال بچ له حلال رزق ګټل ډير ګران کار دے. ما بالکل واضحه او عامه خبره کړې ده، د چا په کاروبار مې هيڅ حکم نه دے لګولے. ټولو له مسئلې زده کول پکار دي. که نوکر دے نو د نوکرئ او که مالک دے نو د نوکر د ساتلو او د مالک جوړيدلو مسئلې زده کول پرې فرض دي. (فتاوٰی رضویه، 623626/23 ملخصاً) که دا وائي چې "يار! مونږ په دې لانجو کښې نه پريوځُو" نو بيا د قيامت په ورځ هم اووايئ چې "مونږ په دې لانجو کښې نه پريوځُو." **نَعُوذُبالله!** هسې نه چې دوزخ ته اوغورځولے شئ. چې مونږ دنيا ته راغلي يو او **اَلْحَمْدُ لِلّٰه!** مسلمانان يُو نو مونږ له به د **الله** او رسول صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حکمونه منل وي، د دې نه بغير هيڅ نجات نشته. تر څو چې کوشش نه کوو نو هيڅ به نه کيږي. **الله** کريم دې مونږ له د کوشش کولو توفيق راکړي. (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 75/5)

**سوال:** په کپړه باندې د مختلف قسم ډيزائن جوړولو د پاره پاتې شوي کټ پيسونه استعمالولے شي، آيا د دې د استعمال اجازت شته؟

**جواب:** په کپړه باندې د ډيزائن جوړولو د پاره چې کوم مختلف قسمه رنګينې کپړې لګولے شي نو ښکاره خبره ده هغوئي د دې د پاره څه تان خو نه شلوي، بلکې د تان نه پاتې شوي کټ پيسونو يا د جامو د ګنډلو نه پس چې کوم مختلف قِسم کټ پيسونه پاتې شي د هغې نه جوړولے کيږي او دا د درزي د پاره حق او حلالې وي. د بعضې خلقو ساده سُوټونه خوښ نه وي نو هغوئي د خپل شوق پوره کولو د پاره دا کپړې لګوي. بهر حال! د کومې کپړې نه چې دا ډيزائن جوړولے شي د هغې په باره کښې چې تر څو پورې د دې تصديق نه وي شوے چې دا کپړه د غلا ده نو هغه لګولے شي.

که د کټ پیس په باره کښې دا اوټاکلے شي چې دا د غلا وي نو بیا به د کټ پیس کاروبار هم ناجائزه شي، حالانکه داسې نه ده.

## که زه دَرزي وے...!

که زه درزي وے نو کیدے شي چې د ځان سره به مې یوه ګوتئ [شاپر] ساتلے او که د ګاهک د جامو نه تار وتلے یا که هر څیز ترې پاتې کیدے هغه هر څه به مې په ګوتئ کښې اچولے او د سوټ [یعني جامو] سره به مې هغه هم ورکولے. د ځان سره به مې Dustbin [د خزلې بالټے وغیره] هم کیښودے، که هغه له غصه ورتللے نو ما به ورته وئیلے چې دې Dustbin ته یې اوغورځوه نو بیا که مې غوښتلے نو هغه به مې استعمالولے. دا زما مزاج دے چې پته نه لګي دا کیښودل پکار دي او که نه، په دې کښې ډیره خطره ده ځکه چې بنده ته د شرعي مسائلو معلومات نه وي، نفسِ اماره یعني سرکشه نفس هم شته کوم چې د خلقو حق وهلو ته راپارول کوي.

د جامو نه چې کوم کټ پیسونه پاتې کیږي هغه په مختلف قِسمه کارونو کښې استعمالیږي، شوقیان خلق د دې نه بابا سُوټ [د ماشومانو سوټ] وغیره جوړوي، او دا د صفایئ د پاره هم پکار راځي. د څیزونو غورځولو والا وخت تیر شوے دے، اوس هر څیز خرڅیږي، مخکښې خو به د کاغذ ټیپونه د پریس والا غورځول، بیا به غریبانانو خلقو هغه د هغه ځائے نه وړل او د اخلې پخلي کولو په وخت به یې د وور وغیره بلولو د پاره پکار راوستل. بهر حال! که څوک د **اللّٰه** پاک نه ویریدونکے دَرزي وي نو د ځان سره دې ګوتئ کیږدي او د جامو نه بچ کیدونکے هر څیز دې په هغې کښې جمع کوي او هغه دې د هغې مالک له ورکوي. او د **اللّٰه** پاک د رضا حاصلولو نیت دې کوي، دغسې به یې د دې سره نیک نامي هُم کیږي او د خلقو اعتماد به هم زیاتیږي.

## هر دَرزي کپړه نه پټوي

په معاشره کښې يوه متل جوړ شوے دے چې " څوک غل نه وي هغه درزي نشي جوړيدے" د کوم درزي چې د کپړې پټولو عادت وي که هغه له تاسو د پوره ناپ کپړه هم ورکړئ نو هغه به يې په داسې انداز کټ کړي چې څه نا څه کپړه به پاتې کړي. په بهارِ شريعت کښې دي: د نيمو پنډو پورې قميص اغوستل سنّت دي. (رد المحتار، 9/579، بهار شريعت،3/409، حصه:16) څوک چې د نيمو پنډو پورې قميص اغوندي د هغوئي به دا تجربه شوې وي چې هغوئي درزي له د نيمو پنډو پورې ناپ ورکوي خو هٰغه کس به خوش قِسمته وي د چا چې تر نيمو پنډو پورې قميص جوړيږي. ګاهک به پرې نه پوهيږي، چې کله لږ ورښکته شي او اوګوري نو قميص به يـې تر نيمو پنډو پورې لا ړ شي او کله چې نيغ اودريږي نو بَل څوک به ورته بيا اُووائي چې تر نيمو پنډو پورې دے او که نه. دغه شان د يوې لويشت لستوڼو ورته وئيلے کيږي خو هغه هم چرته وي؟ په کټ کولو کښې کپړه کمه کړي. البته هر درزي داسې نه کوي، زه عمومي خبره کووم، څوک چې داسې کوي هغوئي له د **الله** پاک نه ويريدل پکار دي. خو ټول درزيان داسې نه کوي، مَاشَآءَالله د دعوتِ اسلامي په ديني ماحول کښې ډير درزيان دي په کومو چې زما ښه ګُمان دے چې هغوئي صحيح کار کوي.

(ملفوظاتِ اميرِ اہلِ سنت، 5/220)

**سوال:** ستاسو کوم عطر خوښ دي؟ د عطرو په بوتلو کښې د سائز ډيره غټه مسئله وي، کله د دريو ګرامو شيشه ميلاويږي کله د دوه نيمو ګرامو راشي، او که ګاهک راشي او درې ګرامه عطر اوغواړي. ولې چې په دې شيشو کښې د عطرو څومره مقدار راتلے شي د دې صحيح پته مونږ ته هم نه وي نو ګاهک په دې خبره باندې څنګه پوهه کړو يا هغه ته د دې صحيح وزن څنګه اووايو؟ د دې څه حل ارشاد کړئ.

**جواب:**

دنيا پسند کرتی ہے عطر گلاب کو لیکن مجھے نبی کا پسینہ پسند ہے

د دوه نیمو دریو ماشو شیشې یا د غل سائز شیشې راځي [یعنې چې دیوالونه ئې پیږ وي او کاهک پرې دهوکه کیږي]، په دې کښې واقعي ازمیښت دے چې دکاندار څنګه دې ته پوره درې ماشې اووئي او خرڅ یې کړي؟ د دې حل دا دے چې ګاهک ته د وزن هډو ذِکر اونکړئ بلکې اووائې چې دا شیشه په دومره [پیسو] ده او هغه شیشه د دومره [پیسو] ده. که په شیشه باندې لیکلے شوي وي چې دا درې ګرامه ده نو دکاندار دې اووائي چې اګرچه په دې باندې لیکلي دي خو ما دا نه ده تللې. دا به اګرچه ګران کار وي ځکه چې د خلقو سره ډیلنګ آسان کار نه دے، زه هم کاروباري سړے یم، ما ته پته ده خلق تنګول کوي خو دا هر څه به کول وي ګنې که تاسو وایئ چې دا درې ماشې ده او د درې نه کمه شیشه ورکوئ نو ګنهګاریږئ به. (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 243/5)

سوال: جینئ ته چې په واده کښې د مَهر کوم رقم میلاویږي نو هغه، هغه څنګه استعمال کړي؟ یو ځل مې په مَدَني چینل باندې اوریدلي وو چې جینئ خاوند له د کاروبار د پاره هغه رقم ورکولے شي.

جواب: کوم مهر چې زنانه ته میلاو شي نو دا د هغې مالکه شي. په هره جائزه طریقه یې استعمالولے شي. که خاؤند له یې ورکول غواړي نو ورکولے یې شي او که بیا یې ترینه واپس اخستل نه غواړي نو هغې ته د معاف کولو اختیار هُم دے.
(در مختار، 239/4) (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 65/6)

سوال: آیا په نهم او لسم محرم باندې کاروبار کول منع دي؟ او آیا په دې ورځو کښې په کور کښې چولـها [نغرے] هم نشي بلولے؟

جواب: دا دواړه خبرې غلطې دي. په محرم کښې چولـها [نغرے] هم بلولے شئ او کاروبار هم کولے شئ. (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 166/6)

سوال: د دعوتِ اسلامي د سنتو ډکو اجتماعاتو کښې د ملاوټ کولو د سختو عذابونو سره سره د دې د غټې ګناه کیدو په باره کښې هم بیان کیږي خو چې بنده کاروبار کوي او د هغې ګټه ویني نو عذابونه هیر کړي او د دوو پیسو ګټلو په خاطر په

کورونو کښې استعمالیدونکو څیزونو، لکه په ورو، دالونو، وریژو او غوړو وغیره کښې بعضې وخت صحت ته نقصان رسوونکي څیزونه ګډوي او خرڅوي یې، د هغه سره دا احساس هم نه وي چې د ملاوټ والا څیزونو خوړلو سره به د خلقو صحت خراب شي. بعضې ماشومان به شَل او محتاجه شي، څوک به د سترګو او څوک به د ګُردو په بیمارئ کښې اخته شي. دغه شان د مال په محبت کښې خپلې دنیا او آخرت ته نقصان رسوي د دوئي د دې ګناه نه د بچ کیدو ذهن آخر ولې نه جوړیږي؟

**جواب:** دا یوه اوږده موضوع ده او دا ډیره د پریشانئ خبره ده چې په هر څیز کښې ملاوټ کیږي. په اوبو کښې هم ملاوټ کیږي. په دې حالاتو کښې انسان څه کولے شي؟ دا مسئله په ذهن کښې کښینوئ چې که خرڅوونکي او اخستونکي دواړو ته پته وي چې دا مال د ملاوټ والا دے او په دې کښې دومره ملاوټ شوے دے او د دې باوجود یې ګاهک په خوشحالئ اخلي نو ګناه نه ده خو عام طور داسې نه کیږي. هر یو ګس خالص څیز لټوي او دا خوښوي چې خالص څیز میلاو شي خو میلاویږي نه. که مونږ مبالغه اوکړو نو تقریباً په 99.99 فیصده څیزونو کښې ملاوټ کیږي، کوم کوم څیز به یادوې. اوریدلي مې دي چې د پئیو په ډبو کښې هم د پئیو په ځائے Whitener Liquid (یعنې مائع سپین جوړوونکے څیز) وي او په هغې یې لیکلي وي چې دا پئ نه دي بیا هم خلق په هغې کښې چائے پخوي او څښي یې یا یې د پئیو په طور استعمالوي. که واقعي په ډبه کښې پئ نه وي او هغه پرې لیکلي هم وي څه چې په ډبه کښې وي هغه یې پرې هم صحیح لیکلي وي نو بیا به جوړوونکے د ګرفت نه بچ شي. نن سبا تقریباً په مرچ مساله او پئیو کښې ملاوټ کیږي، په پئیو کښې اوبه ګډې کړے شوې وي. په پئیو کښې د غوا، میښې او چیلئ درې واړه پئ یو ځائے کړے شوي وي خو په پاکستان کښې د غوا پئ خلق ډیر نه خوښوي، حالانکه د غوا په غوړو او پئیو کښې د شِفا په باره کښې ما لوستلي دي. (مستدرک، 575/5، حدیث: 8274) د دې باوجو دلته خلق د غوا پئ ډیر نه استعمالوي. په بهر ملکونو کښې د پئیو په ډبو باندې

ليکلي وي چې دا د غوا پېۍ دي او خلق يې استعمالوي. که د غوا، ميښې او چيلۍ دريو واړو څاروو پېۍ يو ځائے وي او ګاهک ته پته وي بيا خو صحيح ده. که پته ورته نه وي نو بيا به دا يو قِسم له دهوکه شي ځکه چې ګاهک دا د ميښې پېۍ ګڼي او اخلي يې، د ميښې پېۍ ټينګ وي ځکه دلته خلق دا ډير خوښوي. بعضې خلق د ټينګولو د پاره په پئيو کښې ووړه وغيره هُم ګډوي. **الله** پاک دې داسې کوونکو ته د هدايت او توبې توفيق نصيب کړي.

په [تورو] مرچو کښې د پاپيتې وچ تخم اچولے کيږي د دې رنګ هم تور وي ځکه يې پته نه لګي. بعضې خلق په هوټلو کښې استعمال شوې وچه چائے او [په بټ کښې] د بخکړے شوو چنو پوستکو له رنګ ورکوي او په وَچه چائے کښې يـې ګډوي، الغرض دا ټول کارونه کيږي. د ګرمې مسالې په ډبو کښې هم پته نه لګي چې څه څه ګډ کړے شوي وي. که ممکنه وي نو د مسالو د ډبو اخستو په ځائے په بازار کښې کهلاؤ مسالې اخلئ اګرچه دا به هم خالص نه ميلاويږي خو لږه بهتره به وي. البته د ګرمې مسالې پيکټ جوړوونکي ټول ملاوټ کوي دا ضروري نه ده. بيا دا هم وي چې مثلاً د ملاوټ والا پيکټ په 25 روپۍ ميلاويږي نو په خالص پيکټ باندې 50 روپۍ خرچه راځي بيا به دا کم نه کم په 60 روپۍ خرڅول وي، بيا به د 25 روپو والا د خرابې ګرمې مسالې د پيکټ په مقابله کښې خالص پيکټ په 60 روپۍ څوک اخلي؟ هم دغه وجه ده چې د خالص څيز خرڅوونکي په باره کښې خلق وائي چې دا لوټ کول کوي اګر که هغه ډير قَسَمونه اوخوري او باور ورکړي چې دا خالص دي خو څوک به په هغه باندې يقين نه کوي.

## په حلالو ذريعو رزق ګټل پکار دي

که څوک دا وائي چې په بازار کښې د کاروبار کولو د پاره د ملاوټ والا مال خرڅول مجبوري ده نو هغه له پکار دي چې هغه هډو داسې کار نه کوي په کوم کښې

چې ملاوټ کول او دهوکه ورکول وي. د حلال رزق ګټلو نورې هم ډېرې ذريعې دي هغه اختيار کړئ او حلال رزق اوګټئ. عام طور خلقو له په خوراک کښې ښه ښه څيزونه پکار وي، بيا د خپلو دې خواهشونو پوره کولو د پاره په حرامو ذريعو د مال ګټلو په ګناه کښې اخته کيږي. بهر حال څوک چې ملاوټ نه پريږدي هغوئي له پکار دي چې هغوئي "ورزش شروع کړي د پاره د دې چې عذاب برداشت کړے شي." د ګُزار په طور [يعنې احساس ورکولو د پاره] ما دا جُمله اووئيله، ګني په دنيا کښې نۀ داسې ورزش شته او نۀ څه داسې کيميکل شته چې د هغې په ذريعه بنده د دوزخ عذاب برداشت کړے شي يا د هغې نه [ځان] بچ کړے شي. که څوک نَعُوذُبالله دا اووائي چې زه به د دوزخ عذاب برداشت کړے شم نو داسې ويونکے به کافر شي. (فتاویٰ رضویه، 14/654) ځکه چې هغه د **الله** پاک عذاب سپک اوګڼلو. ياد ساتئ! د دوزخ وور به د **الله** پاک د رحمت په اوبو او په رښتوني توبه مَړ کيږي، د **الله** پاک په ويره کښې بهيدونکې اوښکې به د **الله** پاک د عذاب نه بچ کول کوي، ګني خپل عقل او چالاکي به يې دلته پاتې شي او د دې نه به ورسره هيڅ هم نه ځي. **الله** پاک دې مونږ ته په لږ رزق باندې قناعت راعطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم

## د دهوکې او ملاوټ په ذريعه حاصل شوے مال د لاس نه ووځي

(په دې موقع باندې نګرانِ شوریٰ اوفرمائيل:) په ملاوټ او دهوکه باندې حاصل کړے شوے مال خو ځي هم. مشهوره واقعه ده چې يو ګس به په پئيو کښې اوبه ګډولې، يوه ورځ سيلاب راغے او د هغه ټول څاروي ئې يوړل. چا هغه ګس ته اووئيل چې دا هم هغه اوبه دي کومې چې به تا په پئيو کښې ګډولې. نن هغه اوبه د سيلاب په طور راغلې او ستا ټول مال يې يوړلو. (احياء العلوم، 2/97) کومه پيسه چې د غلط ځائے نه راځي نو هغه غلط ځائے [يعنې] د ډاکوانو وغيره لاس ته ځي. په کاروبارکښې د دهوکې ورکوونکو د پاره سخت وعيدونه دي. په حديثِ پاک کښې دي: کوم ګس

چې عیب دار څيز خرڅ کړي او د هغې نه ګاهک خبر نه کړي نو داسې ګس به د **الله** پاک په ناراضګئ کښې اوسي او فرښتې به په هغه باندې لعنت وائي. (ابن ماجه، 59/3، حديث:2247) په بَل حديثِ پاک کښې دي: په ټولو ګټو کښې زياته پاکه ګټه د هغه سوداګرو ده کوم چې خبره کوي نو دروغ نه وائي، کله چې د هغوئي سره امانت کيښودے شي نو خيانت نه کوي، کله چې وعده اوکړي نو د هغې خلاف نه کوي، کله چې څه څيز واخلي نو د هغې بد نه وائي، کله چې خپل څيز خرڅوي نو د هغې په تعريف کښې مبالغه نه کوي، که په هغوئي باندې د چا [رقم وغيره] پورې وي نو په ورکولو کښې د لم ليټ نه کار نه اخلي او کله چې د هغوئي په چا باندې [رقم وغيره] پورې وي نو سختي نه کوي. (شعب الايمان، 221/4، حديث:4854) **الله** پاک دې مونږ ته د حلال رزق ګټلو توفيق رانصيب کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صلَّى الله عليه واٰله وسلَّم

(ملفوظاتِ اميرِ اہلِ سنت، 438/6)

**سوال:** د يو اسلامي ورور د ميښو کاروبار دے، د هغه په ذهن کښې چا دا خبره اچولې ده چې ”که کله هم تاسو خپل کاروبار زيات کړئ په تاسو باندې به جادو اوشي او ستاسو به څه نا څه نقصان کيږي!“ په داسې قِسمه حالت کښې بنده څه اوکړي او د هغه اعتماد به څنګه بحال شي؟

**جواب:** داسې ګس له پکار دي چې هغه په **الله** پاک باندې يقين ساتي، **الله** پاک چې څه غواړي هم هغه به کيږي. که هغه ګس د چا مُريد وي نو د خپل پير و مرشد د شجرې اوراد دې په پابندئ سره لولي او تعويذ دې هُم واچوي، اِنْ شَآءَ الله ډيره زياته فائده به يې اوشي، اثرات وغيره به هم ختم شي.

مُدّعی لاکھ بُرا چاہے تو کیا ہوتا ہے ‏ ‏ وہی ہوتا ہے جو منظورِ خدا ہوتا ہے

(ملفوظاتِ اميرِ اہلِ سنت، 194/7)

**سوال:** بعضې خلقو نه خپلې جامې د دهوبي سره هيرې شي او ډيره موده تيره شي، په دې حالت کښې دهوبي له څه کول پکار دي؟


جواب: دهوبي له پکار دي چې هغه د خپلو ګاهکونو موبائل نمبرې او د هغوئي پتې اخلې، بيا د ګاهک د نه راتلو صورت کښې دې په هغه پته باندې نوکر له هغه جامې ورکوي او ليږي دې. بعضې علاقې داسې هم دي چې هلته دهوبي پخپله د کور نه جامې وړي او د وينځلو نه پس ئې پخپله راوړي هم، په دې کښې د يو ګاهک نه د هيريدو هيڅ سوال نه پيدا کيږي، دا د لانډرئ کاروبار وي او په دې کښې کار کوونکي خلق هم د خواؤ شاه وي. که بالفرض يو ګاهک خپلې جامې هيرې هم کړي نو د هغه کور ته به څوک جامې اورسوي، دا دومره غټه مسئله نه ده. البته که دهوبي غفلت کوي نو هغه بيله خبره ده، خو دهوبي له غفلت نه دے پکار. د ګاهک نه د جامو هيريدو سره به هغه مالِ غنيمت جوړ نه شي چې په هغې باندې قبضه اوکړے شي، هغه به د ځان سره محفوظ ساتل وي. عموماً د لانډرئ والا په شمار ګاهکونه وي، هره ورځ نوے ګاهک نه راځي. په کاغذ باندې دې نوم اوليکي او په ديوال دې يې اولګوي د پاره د دې چې که د چا نه خپلې جامې هيرې شوې هم وي نو د کاغذ کتلو سره به وريادې شي. (ملفوظاتِ اميرِ اہلِ سنت، 204/7)

سوال: د اوبو کاروبار جائز دے که نه؟

جواب: جائز دے. (ملفوظاتِ اميرِ اہلِ سنت، 45/2)

نوټ: په څلورمه صفحه باندې موجود سوال شعبه ملفوظاتِ اميرِ اهلسنت جوړ کړے دے خو جواب د اميرِ اهلسنت دامت برکاتہم العالیہ عطا کړے شوے دے.

## د راتلونکې اونۍ مجله




978-969-722-587-3
01082458

فیضانِ مدینہ، محلہ سوداگران، پرانی سبزی منڈی کراچی
UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net